# پښتو غزل کښې د علامت نګارۍ رجحان
## (سرسري تحقيقي جاچ)
# The trend of symbolism in Pashto Ghazal

**Tufil Ahmed Zaryab Yousafzai**★

**Abstract:**

Pashto poetry has an ancient history. The Genre of Ghazal is the modern style of emotional and spiritual expression of Pashto poetry. Poetry is based on different technical and artistically charming style of art and expression. The poets of Pashto language follow the contemporary trends in their poetry especially in the Genre of Ghazal. In early stage the Pashto Ghazal was inspired by different thoughts and styles of art and expression i .e Persian language poetry and Arabic poetry. But the main trend turning cause is Persian poetry. Most of the Pashtun poets in classic were the experts of Persian language as well so they were inspired by the Persian poetry and its style. They also started using those terms and style. One of the most popular term and style which are being still following by many poets of Pashto is symbols. The words are symbol itself, real and concrete. That's why poets use symbols for their expression of views in easy, precise and amazing way. Symbols make a simple thought meaningful and attractive. The trend of using symbol in poetry came from Persian in its traditional style and got fame with modern thoughts of Europe and France. This paper is going to discuss the journey of symbol towards Pashto its type and style ancient to modern ,Persian to Pashto and then French or English to Pashto, classic to modern poetry of Pashto in selected few poets on the era.

**Keywords**: Symbol, Symbolism, Classic, Classical poetry, Persian literature, Trend,Term and Style, Modern poetry, Symbols of old words new style.

ټکي کۀ يو خوا د انساني ژوند د ربط ، ترسيل او افهام سلسلې قائموي نو بل خوا د دې د استعمال نه د انسان د ذهني ارتقاء او فکري عروج پته لګي.ټکي مجرد نۀ وي بلکې په هر دور کښې دا خپل شکل او هيئت بدلوي.په خصوصي توګه چې کله د ادبي تخليق په وخت

★ Lecturer Pashto Department ICU Peshawar

استعمالېږي نو د هغې نه د تخليق کار د مزاج او طرز احساس مطابق نوے رنګ اخلي.لکه څنګه چې د سائنس د تجربو او اصولو صداقت په خپلو اشارو او مختلفو علامتونو پټ وي دغسې په شاعرۍ او ادب کښې هم د انساني تجربو صداقت په مختلفو رموزو،کنايو او علامتونو څرګندېږي.په دے مقاله کښې به مونږ د علامت په تفصيل سره جاج اخلو او بيا به د پښتو غزل کښې په عمومي ډول جاج هم ددغې علامت نګارۍ په تناظر کښې اخلو چې ايا پښتو غزل کښې د علامت روايت شته کۀ نۀ؟ کۀ شته نو د کوم وخت نه دے او چې نشته نو ولې نشته؟ خو اول راځو چې د علامت په حقله تفصيلي خبره وکړو.علامت د نخښې او نشان په معنو کښې استعمالېږي.نقش هم د علامت دپاره کله کله پکارېږي. دي نيو انسائيکلوپيډيا آف برېټانيکا کښې د علامت دا معنا بيان شوې ده:

"The word Symbol comes from the Greek "Symbolon" which means contract, token, insignia and a mean of identification."[1]

ژباړه: symbolد يوناني لفظ symbolonنه ماخوذ دے. چې معنا ئې معاهده ،نخښه،نشان او شناخت دے.

دي انسائيکلوپيډيا آف امريکانا کښې د علامت په حواله داسې ليکي:

"The use of word to suggest or to intimate, rather than to convey specific meaning, in an essential characteristic of poetry"[2]

ژباړه:د لفظونو داسې استعمال چې د څۀ خاص خاصيت په بنياد د شاعرۍ د خصوصياتو د پاره په کار راوستې شي.

ويبسټرز انسائيکلوپيډيا د علامت تعريف داسې کوي:

"A word, phrase image or the like, having a complex of associated meaning and perceived as having inherent value, separable from that which is symbolized, as being part of that which as symbolized and as performing that which is normal function of standing for or representing that which is symbolized, usually conceived as deriving its meaning chiefly from the structure in which it appears and generally, distinguished from a sign."[3]

ژباړه: يو ټکے ،د جملې انځور يا دغسې نورې معنې چې يو کونجيلک مفهوم لري هغه مونږ داسې ګڼو چې دغه ئې علامت وي او مونږ د اصل په ځاے دغه لفظ کاروو د کومې نه چې مونږ معنې اخذ کوو.

د علامت په حقله د پورته بيان شوي تعريفونو نه مونږ د علامت ټکي معنې ته د وررسېدو جوګه کېږو.دغه يوناني الاصل ټکے د نخښې،اشارې،د خيال او په څۀ نه څۀ لرې معنو کښې د پټ مفهوم دپاره کارېږي.په ادبي اصطلاح کښې علامت نګاري د يو خيال يا فکر په

بالواسطه اشارې يا نخښې بيانولو ته وائي.د ويليم يارک ټنډل تر مخه:

"ادبی علامت ان دیکھی شے کی ایسی مشابہت یا مماثلت ہے جس کے قلب میں محسوسات اور فکر کے اشارات کا ایک طویل سلسلہ ہوتا ہے۔"[4]

د اردو يو بل نقاد عارف عبدالمتين د علامت په حقله په خپل بحث کښې وائي:

"علامت کے لغوی معنی ہیں نشان یا سُراغ اور اس لفظ کی توضیح یوں کی جاسکتی ہے کہ علامت کسی بھی نوعیت کی اس چیز کو کہتے ہیں جو کسی بھی نوعیت کی دوسری چیز کی نشاندہی کرے یا اس کا سراغ مہیا کرے۔ بہ الفاظ دیگر علامت اس پُر معنی وجود کا نام ہے جس کی معنویت محض اس سے ماورا کسی اور وجود کے حوالے میں مضمر ہو۔ گل کا لفظ ایک علامت ہے۔ اس کی معنویت اس نباتاتی وجود میں پوشیدہ ہے جو کہ سُرخ رنگ کی نرم و نازک پتیوں پر مشتمل پیکر لیے اپنی خوشبو سے باغ کے گوشے گوشے کو مہکار ہا ہو ۔اسی طرح بلبل کا لفظ ایک علامت ہے اور اس کی معنویت کا راز اس حیواناتی وجود میں پنہاں ہے جو اپنے خوشنما اور دیدہ زیب رنگوں والے پَروں کے ساتھ باغ میں اُڑتا اور گلوں پر کمال شیفتگی سے منڈلاتا ہے۔"[5]

او هم دغه خبره په لږ شان بدلون سره محمد صديق روهي داسې کوي چې علامت نګاري د يوې خاص مفکورې دپاره د وضع کړې شوې لغاتو په بنه کښې مخې ته راځي.هغه په ادبي خېړنې کښې ليکي:

"سمبوليزم په واقيعت کښې د رومانتيک روحيې خاصه بنه ده.سمبولستان د رنګونو او قافيو په لباس کښې لغتونو ته خاصه معنا ورکوي او په دې وسيله د يوې مفکورې يا وضعې ماهيت څرګندوي."[6]

کۀ غور وکړې شي نو د ټکي صحيح معنې او امکانات په علامتي اسلوب رامېنځ ته کېږي. کله چې ټکے علامت شي نو هغه د خپل قوت اظهار په ډېره بشپړه طريقه کوي.شعري علامت احساساتي او تصوراتي وي کوم چې اول په احساساتي بنه لوستونکے متاثره کوي او بيا په تصوراتي بنه دهغه د ذهن نور صلاحتونه راويښوي. په دې لحاظ د ټکو علامتي استعمال په اصل کښې د ژبې تخليقي استعمال دے.چې کله ټکي د ادبي علامتونو په طور استعمال شي نو د هغوي حېثيت صرف د اشارو يا کنايو نۀ پاتې کېږي بلکې چې د کومو حقائقو د رابرڅېره کولو د پاره پکارولې شوې وي نو هم هغه ئې د معنويت لازمي جز شي.په شاعرۍ او ادب کښې د علامتونو مطالعه په عصري توګه هم د اهميت وړ ده.تمدني اساليب په علامت خپل اظهار کوي او په وسيع معنو کښې د ادبي

علامتونو په لار د تمدن دجذباتي او فکري ژوند تشخیص هم کوي.ځکه خو په خپل قطعي او مکمل شکل کښې علامتونه د انفرادي او عصري اظهار یو اهمه لار هم وي او په فني او ادبي اعتبار د تخلیقي تجربې ادراک،تنظیم او ترسیل جامع او مؤثره وسیله هم.

د ډبلیو بي ژیټس (W.B. Yeats) تر مخه:

"علامتیں شاعری میں ایک بہت بڑی طاقت کی حیثیت رکھتی ہیں،وہ اس کو پہلودار بنا کر اس میں حسن پیدا کر دیتی ہیں۔"[7]

ګویا شاعري چې کوم ټکي د افکارو او جذباتو د ترسیل دپاره دیو ټول (Tool) په توګه پکاروي د علامت نه رنګ او رڼا اخلي نو په هغې کښې اثر پیدا کېږي. د شاعرۍ خوند خو هم دا دے کنه چې د لوستونکي ذهن د علامت په پرده کښې د پټ خیال سره اشنائي پیدا کړي.ډاکټر وزیر آغا لیکي:

"علامت شے کو اس کے مخفی تصور سے منسلک کرتی ہے بلکہ یوں کہیے کہ جب شے علامت کا روپ اختیار کرتی ہے تو قاری کے ذہن کو اپنے مخفی تصور کی طرف موڑ دیتی ہے۔ جب شاعر کسی شے یا لفظ کو علامت کے طور پر استعمال کرتا ہے تو اپنی تخلیقی جَست کی مدد سے اس شے اور اس کے مخفی معنی میں ایک ربط دریافت کرتا ہے۔ شاعر کا سارا جمالیاتی حظ اس کی اِسی جَست کے باعث ہے۔"[8]

مونږ علامت له دمعنو د هغه درنګ نوم ورکولې شو چې د معنویت نه هم تېر د خپل وجود زېږون لري او هم دغه وجه ده چې شاعري د علامت په لار د معنو غورجن راسپړي.ګویا علامت په خپل وجود کښې نغښتې د لفظي معنو سره سم د بلها احساساتو او مفاهیمو خوارۀ لري او هم دغه معنوي خوارۀ د انساني ذهن سره داسې رشته جوړوي د کومې امکانات چې د قوت متخیله سره سره نورې هم د وسعتونو په ورشو کښې ځان خوروي.علامت ته یو خاص امېج هم وئیلې شوچې د وجود نه ئې نور بلها امېجز رامخته کېږي.دغه خاص امېج د فکر او خیال دنیا ته مونږ رابلي.په دغه لحاظ مونږ دا وئیلې شو چې علامت د فکر غذا ده او هم ددې په وسیله د انسان د ذهن نه زنګ لرې شي او یو نوې تحریک پکښې پیدا شي.د ټکو صحیح لغوي امکانات په علامتي اسلوب بیان مینځ ته راځي.علامت سازي یو همه ګیر عمل دے او د انسان ذهن مختلف خیالات، افکار، محسوسات او د تلازماتو رشتې په علامتي شکل متعین کوي.

د علامتونو مختلف قسمونه دي خو د ابلاغ او معنویت په بنیاد ئې مونږ په دریو حصو

کېنبي وېشو.

۱. روايتي علامتونه(Conventional Symbols)

۲. اتفاقي علامتونه (Accidental Symbols)

۳. آفاقي علامتونه (Universal Symbols)

روايتي علامتونه په معاشره کښې د يو نسل نه بل ته منتقل کېږي.په دغه کېنبې د ټکي او څيز تر مېنځه په ظاهره هيڅ رشته او تعلق نهٔ وي خو ډېر استعمال ئې رشته جوړه کړي.هم دغه وجه ده چې ټکے څنګ د خلې نه ووځي نو د يو خاص څيز په حقله ابلاغ وشي.د مثال په توګه مېز ټکي کېنبې او په څيز مېز کېنبې هيڅ قسمه رشته نشته خو د يو وخت نه ورته هم دغه مېز وئيلې کېږي.نو ځکه چې په ژبه د مېز ټکے راشي نو پته ترې ولګي چې اشاره څهٔ شي ته ده. دا مثال په هغه علامتونو هم پوره خېژي کوم چې د يوې مخصوصې ژبې په ادب کېنبې د يوې زمانې راهڅې استعمالېږي او هغې معنې په قطعيت متعينې وي.د مثال په توګه پښتو، اردو او د فارسۍ شاعرۍ کېنبې ګل او بلبل،دشت او جنون،ساقي او شراب وغېره ټکي د روايتي علامتونو په زمره کېنبې راځي.دغسې په اتفاقي علامتونو کېنبې هم د علامت او څيز تر مېنځه څهٔ تړون نهٔ وي.خو دا د روايتي علامت نه بيخي اپوټه وي.داسې علامتونه رو رو د جذباتي حدت نه محرومېږي او صرف ذهني يا فکري وجود يې پاتې کېږي.ددې نه علاوه د دوي انفرادي تعلق کمزورې شي او اجتماعي قدر يې نور هم سېوا شي.اتفاقي علامتونه په مکمل توګه ذاتي وي او د هغې تشکيل د يو کس د جذباتي تجرباتو نه کېږي.د مثال په توګه د يو کس د يو ښار کلي يا کور داسې تجربه وي چې د هغې د نوم اورېدو سره ورته هغه منظر په تفصيل سره د ذهن په پرده راځي او چې کله هغه کس د هغه ځاے ذکر کوي نو د يو خاص تاثر سره يې کوي خو بل کس تر هغې ددغې ځاے متعلق څهٔ تاثر نهٔ شي قائمولې تر څو چې يې د هغه ځاے سره خپله تجربه نهٔ وي شوې کومه چې د وړومبي کس وي او نورو ته د هغې تجربې تاثر رسول غواړي. په آفاقي علامتونو کېنبې د علامت او د هغې څيز تر مېنځه پوخ تړون وي د څهٔ نمائندګي چې هغه کوي.انسان د ژوند په ارتقائي سفر کېنبې د مختلفو جذباتي او بدني مرحلو نه تېرېږي او د هغې په حقله مختلف تاثرات قائموي.د ابن فريد د وينا تر مخه:

"اس ماحول کے بارے میں جس سے بنی نوعِ انسان کے ارتقائے حیات کا تعلق رہا ہے تمام انسانوں کے تصورات

یکساں ہیں۔ مثلاً آگ، پانی، ہوا، روشنی، زمین، پہاڑ، پیڑ وغیرہ۔ اس لیے ان کے بارے میں تمام انسانوں کے ذہنی وجذباتی تجربات، تاثرات یکساں ہوتے ہیں۔ البتہ ان کے بارے میں ردِّ عمل میں تنوع دو وجوہ کی بناپر ہو سکتا ہے اولاً عمرانی، ثانیاً میلانی۔ یعنی ایک معاشرے یا آبادی کے لوگ کرہ ارض کے انتہائی شمال میں رہنے کی بناپر سورج کو جمال کی علامت تصور کرتے ہوں لیکن خطِ استواپر رہنے والے لوگ اسے جلالِ محض قرار دیتے ہیں۔ اسی طرح الاؤ میں جلتی ہوئی آگ نہ صرف زندگی اور جذبے کی علامت ہوگی بلکہ رحمت ومحبت کی مظہر بھی۔ لیکن یہی آگ بستی کو اپنے مہیب شعلوں کی لپیٹ میں لے لیتی ہے تو قہر، غضب اور نفرت کی نمائندہ بن جاتی ہے۔ غرض آفاقی علامت کے ذریعے ہم جذباتی تجربات کا مادی تجربات کی زبان میں اظہار کرتے ہیں۔ یہ زبان کسی فرد تک محدود نہیں ہوتی بلکہ تمام انسانوں میں مشترک ہوتی ہے۔"[9]

د علامت تاریخ او پس منظر

په لرغوني علامتونو د غور او فکر نه پس دا سوال راپورته کېږي چې د علامت تاریخي پس منظر او شالید او تاریخ څۀ دے؟ ددې سوال د جواب نه وړاندې دا ضروري ده چې مونږ په دې خبر شو چې د یو علامت په جوړښت کښې صرف یو کس لاس نۀ لري بلکې په دې کښې ماحول ، معاشره او وخت پوره لاس لري. کله چې یو شاعر یا ادیب یو علامت کاروي نو د هغې علامت تعلق صرف د ادیب یا شاعر د ذات سره نۀ وي بلکې د هغې په شالید کښې مختلف تهذیبونه او بیا دهغې تهذیبونوسره تړلي د ډېرو انسانانو اثار ښکاره شي.جیلاني کامران دعلامتونو استعمال داظهار لرغونے صورت ګڼي.خو ولې بیا هم د هغه دا خیال دے چې په زړه شاعرۍ کښې د علامتونو استعمال جزوي وو خو چې کله دا رجحان په مکمل توګه په شاعرۍ حاوي شو نو ددې نه د ابلاغ مسئله راولاړه شوه.هغه په علامت کښې د لوستونکي موجودګي ضروري ګڼي.د هغه مؤقف دادې چې علامت دې داسې وي چې لوستونکے دې هم د شاعر په محسوساتو او یاداشتونو کښې پوره شریک شي.خو کۀ لوستونکے ددې یاداشتونو او محسوساتو سره تړون ونه لري نو په داسې وخت کښې د لوستونکي دپاره د علامت شته کېدل او نشتوالے یو شان وي.[10]

غلام جیلاني اصغر لیکي:

"شاعری ہر دور میں اپنا مزاج بدلتی رہتی ہے اس لیے اس کی علامات کے معنی اور مفہوم میں بھی تبدیلیاں آتی رہتی ہیں۔ اس کے برعکس ریاضی کی علامات متعین ہوتی ہیں۔ ان کے نزدیک غزل میں مستعمل علامتیں قدیم دور سے لے کر اب تک ایک ہی مفہوم میں استعمال ہوتی چلی آرہی ہیں۔ اس لیے یہ علامتیں اپنی تازگی کھو بیٹھی ہیں۔ وہ یہ خیال ظاہر کرتے ہیں کہ ریاضی

اور سائنسی علامات کا تاثر اجتماعی جبکہ شاعر کی تخلیق کردہ علامات کا کردار اور تاثر انفرادی اور شخصی ہوتا ہے۔"[11]

ډاکټر سجاد باقر رضوي د نورو د تهذيبي علامتونو په ځاے خپل تهذيب له فوقيت ورکوي.د هغه په خيال د فرد او قوم شعوري روزنه د خپل تهذيبي علامتونو په شعور، پوهه او بيا د هغې په قبلولو ممکن ده.د خپلو تهذيبي علامتونو د هېرولو سره يو قوم د زوال او بربادۍ سره مخ کېږي.په دې حقله هغه ليکي:

"کسی قوم کے انحطاط کا سبب یہ ہوتا ہے کہ وہ اپنے عزائم کو بھول جاتی ہے جو اس کے افراد کی جذباتی زندگی کو مربوط رکھنے کے لیے ضروری ہوتے ہیں۔ یہ انحطاط سیاسی اور سماجی ہونے سے پہلے جذباتی زندگی کا انحطاط ہوتا ہے۔ تاہم قوم کے تخلیقی ذہن علامتوں کو اپنے اندر رچائے بسائے ہوتے ہیں اور ان ہی علامتوں کے ذریعے اپنے لاشعور سے رابطہ قائم رکھتے ہیں۔"[12]

کۀ مونږ د هندي ديومالا د مختلفو کردارونو په حواله غور وکړو نود هغې نه د علامت ادبي حېثيت واضحه کېږي.چې مونږ د هندي ديومالا د قيصود مختلفو کردارونو صفات چرته په يو کس کښې وګورو نو مونږ هغه هم په هغه نوم يادوو.او داسې هم کېږي چې مونږ د يو کس د يو څو صفاتو د شمار په ځاے صرف يو ټکي کښې د هغه د ټولو خوبو او خاميو تجزيه کوو.او هم دغه علامت وي.

علامت پکار ده چې د خپل دور د تقاضو سره سمون لري. د هر دور شاعر دې هم د هغه ماحول او ژوند نه ځانله علامتونه اخلي او پکاروي دې.د شاد امر تسري د وائي:

"علامت بذاتِ خود کوئی معنی نہیں رکھتی۔ یہ شاعر ہے جو علامت کو ایک جہانِ معنی عطا کرتا ہے اور جس کا طریقہء اظہار علامت کے مفہوم کو بیان کرتا ہے اور اس طرح شاعر اپنی شاعری میں ایک نیا حسن اور تازگی پیدا کرتا ہے۔ علامت ایک ایسا خزانہ ہے جس کو صرفِ بے جا سے بچانا ہمارا فرض ہے اور اس کے موزوں صَرف سے ہی شاعری کی دنیا میں معنی اور مطالب کے نئے دروازے کھل سکتے ہیں۔"[13]

په علامت کښې ابهام ضروري وي خو د مصنف کمال دا وي چې هغه د يو علامت استعمال داسې وکړي چې د لوستونکي د فکر پلوشې ورته رسېدو کښې کاميابې شي.د علامت ابلاغ لوستونکي ته هم ضروري دے ځکه چې ددې نه بغېر په يوه فن پاره کښې حظ افروزي ممکنه نۀ ده.علامت ازاد نۀ وي ځکه چې انفرادي علامتونو کښې هم اجتماعي تجربې خوندي وي.ډاکټر وزير آغا علامت د استعارې ترقي يافته شکل ګڼي د هغه تر مخه چې کله په استعاره کښې نوې نوې معنې پيدا کېږي او د خپل لغوي حدودو نه اوړي نو د

علامت مقام ته رسي. په دې حقله هغه د يو تمثيل په لار د علامت وضاحت کوي او ليکي:

"اگر اندھیری رات ہے اور میدان میں صرف ایک قمقمہ روشن ہے اور آپ اس قمقمے کی طرف آرہے ہیں تو جسم سے جڑا ہوا آپ کا سایہ آپ کا تعاقب کرے گا اور قدم بہ قدم مختصر ہوتا چلا جائے گا۔ حتیٰ کہ جب آپ قمقمے کے نیچے کھڑے ہوں گے، سایہ آپ کے قدموں میں سمٹ کر غائب ہو جائے گا۔ مگر جب آپ قمقمے سے آگے بڑھنے لگیں تو یہی سایہ آپ کے قدموں سے نکل کر آگے آگے چلنے لگے گا اور بتدریج بڑا ہوتا جائے گا تا آنکہ اندھیروں میں جذب ہو کر معدوم ہو جائے گا۔ جب شے صرف ایک معنی کی حامل ہو تو ہم کہیں گے کہ یہ نشان ہے۔ جب یہ شے ایک اور شے سے مشابہت کی بنا پر رشتہ قائم کرے تو یہ تشبیہ یا استعارہ ہے اور جب یہی شے آگے بڑھ کر معنوی توسیع کی علمبردار بن جائے تو علامت ہے۔"[14]

د ډاکټر محمد اجمل مؤقف دا دے چې هر خالص شعري واردات علامتي وي. هغه د شعري رويې په مېنځ کښې د واسطې وظيفه تر سره کوي. شعور سوال پورته کوي او په جواب کښې ورله لاشعور څۀ نه څۀ علامت يا د علامتونو سلسله د کومو چې اظهار په اساطير او اولسي دانش کښې شوې وي ورکوي. هغه ليکي:

"ہر علامت کو ایک پہلو سے شعوری اور دوسرے پہلو سے لاشعوری کہا جا سکتا ہے۔ کسی علامت کے لاشعوری معنی کو سمجھنے کا بہترین طریقہ یہ ہے کہ مدھم سُروں پر دھیان دیا جائے۔ دبی دبی آوازوں کو سُنا اور بین السّطور اچھی طرح جھانک لیا جائے۔"[15]

ډاکټر سليم اختر علامت د تخليق کار په شعورته ورښکاره کېدل ګڼلو سره سم د نفسي توانائۍ د شدت د پېمائش معيار يې هم بولي. هغه وائي:

"تخلیق کار میں نفسی توانائی کی شدت کی پیمائش علامات سے کی جا سکتی ہے۔ علامت خوابوں کی ہو یا کسی جدید نظم کی، ان سب کا مقصد ایک ہے۔ یعنی یہ نفسی توانائی کے اخراج کا ایک اور انداز بھی ہے۔ معنی خوابوں میں بھی ہیں اور نظم بھی ان ہی سے پُر معنی ہوتی ہے۔"[16]

د علامت د جوړښت دپاره کۀ يو خوا د اعلي تخليقي صلاحيتونو ضرورت وي نو بل خوا د اظهار په چل د مکمل لاس بري ضرورت هم وي. دا خيال شميم احمد په دې لفظونو کښې وړاندې کوي:

"کبھی بڑا ادب بغیر علامات کے پیدا نہیں ہوتا اور علامات بغیر پُر قوت تخیل، زبان پر اعلیٰ درجے کی قدرت اور مہارت اور الفاظ سے زندہ رشتے کے بغیر وجود میں نہیں آتیں۔"[17]

د علامت په حواله د مختلفو نقادانو د خیالاتو او فکرونو په رڼا کښې دې نتیجې ته رسو چې علامت د ژبې داسې تخلیقي او تخیلي استعمال دے کوم چې د خپل وسعت او جامعیت په اعتبار هر اړخیز اثر لري.د علامت تعلق د یو کس سره هم دے او د اجتماع سره هم.دا د ماضي سره هم خپلې جرړې تړلې ساتي او د حال او مستقبل سره هم خپل تړون قائم ساتي.دا د لرغوني تهذیبي او اساطیري روایاتو سره هم خپله رشته ساتي او تهذیبي سطح باندې په جدیده لار هم خپل قدمونه ټینګ ساتي .د انساني نفسیاتو په تناظر کښې خپل رنګونه په شعور او لا شعور دواړو کښې زرقون ساتي.ددې په ذریعه مونږ د تخلیق کار د نفسي توان د شدت پېمانه کولو سره سم د انساني خوبونو کښې پټې معنې راټولوي.د علامت اثر انګېزي معاشره کښې په ژوندي ژاړن حقیقتونو کښې ټوکېږي او د کائنات ټول مظاهر د انسان په ذات کښې منعکس ښکاري.

پښتو شاعرۍ کښې د علامت نګارۍ رجحان

د تخلیقي عمل دوران تخلیق کار کله د لاشعوري تجربې نه تېرېږي او کله د شعوري مرحلې نه . کله کله په لاشعور کښې پروت ټکے یا د ټکیو سلسله شعر ته منتقل شي او کله کله د ټکیو تلازماتي او د انفرادي معنویت په تناظر کښې تخلیق کار په شعوري توګه تخلیق کوي.کله نا کله یو ټکے د خپل علامتي معنویت سره په غېر شعوري ډول د ذهن په پرده ښکاره شي.او بیا ورله تخلیق کار د مختلفو تلازماتي معنویت یو مرکزي حېثیت ورکړي چې د هغې په لار د ابلاغ او ترسیل لارې اسانېږي.په اصل کښې یو تخلیق کار پخپل لاشعور کښې د پروت ټکي یا ټکیو نه د خپل تخلیقي سفر ابتدا کوي او چې څنګه هغه د ټکي یا ټکیو د سلسلې نه پرته خپل نظم یا غزل تخلیقوي نو هغه رو رو د شعور دائرې ته ننوځي .ولې بیا هم ددې عمل دپاره څۀ خاص پېمانه نشته چې مونږ پرې په واضحه توګه دا فیصله وکړو چې د علامت وجود شعوري دے کۀ لاشعوري .اصل مقصد د علامت د تعین نه پس په یوه ادبي فنپاره کښې ددې د حېثیت او د عمل د تاویل نه ښکاري.او ددې جواب په دریوو لارو ورکړې کېدې شي.

1 . د شاعر هغه ذاتي تجربه چې د علامت سرچینه وي.دغه سرچینه فطري هم کېدې شي ،دنیاوي هم او د مصنوعي هم.
2 . په تخلیق کښې د دغه علامتونو معنوي حېثیت.

3 . هغه لارې په کومو لارو چې علامت خپل مقام ته رسي.

د پښتو د ورومبي دور د شاعرۍ جاج چې اخلو نو د هغه دور د شاعرانو د علامت مظهر نظريۀ کائنات او تصور حيات دے. خدا ے ، کائنات او انسان ، دا دريواړه هغه موضوعات دي د کومې ترون چې د دغې دور د شاعرانو د فکر اډانه ده.او هم دغه وجه ده چې د دوي استعمال کړې شوي علامتونه په معنوي لحاظ هم دغه دريواړه په ځان کښې رانغاړي، د شاعرۍ دغه علامتي نظام د صوفيانه فکر پيداوار دے. د صوفيانه روايت پشان علامت هم په ځان کښې مختلفې درجې او مقامات لري.د ژوند حقيقت الحقائق د لوړ مقام ته د رسېدو دپاره د لاندې نه بره لار نيسي او ژوند له د يو خاص مقصد سره سم د منزل تعين کوي.د ژوند د ما بعدالطبيعاتي او روحاني وارداتو سره د ترون نه پرته د مادي ژوند سره هم خپل ترون او اړيکي مضبوط ساتي ځکه چې ماده او د مادې هر صورت په بنيادي توګه د حقيقت واحده حصه ده.علامتي ټکي، د روحاني او ماورائي حقائقو د رمز سره سم د معاشرتي،تهذيبي او سياسي ژوند ترجماني هم کوي.د پښتو شاعرۍ دغه علامتي نظام د فارسۍ د علامتي شاعرۍ استعاره ده.ګل،بلبل او پتنګ وغيره زمونږ شاعرۍ ته د فارسۍ نه د شعري علامت په توګه راغلي دي.خو دلته د علامت جوړېدو د ارتقائي سفر نه نۀ دي تېر شوي بس دبلبل د سندرې نغمګي د آه او درد په سانده کښې بدله شوه او د عاشق رول لوبوي.ګل د خپل حسن ،نزاکت او شوخۍ په سبب د محبوب مشابه شوې دے .دغسې د ګل او د بلبل نه د عاشق او معشوق علامت جوړ شوې دے.شمعې به مخکښې صرف د رڼا کار کوو خو ورو ورو پکښې سوز او ګداز پيدا شو او د غم نمائندګي ئې شروع کړه، او چې بيا ترې پتنګ د زړۀ د اخلاصه طواف او ځان ئې پرې شيندل شروع کړل نو د پتنګ دغې ادا د عاشق د خلوص او قربانۍ معنې اختيار کړې او دغسې شمع او پتنګ د عاشق او معشوق ، د سوز او ګداز سره د خلوص او قربانۍ په معنو کښې کارېدل شروع شول.د پښتو د ورومبي دور کوم چې د پټې خزانې په پاڼو کښې خوندي دي او بيا په خاصه توګه د روښانيانو او اخون درويزه بابا د مسلک په شاعرانو کښې د يو خاص پس منظر او مخصوص طرز احساس سره ددغې علامتونو استعمال شوې دے.دغسې بيا د دريم دور د شاعرانو په شاعرۍ کښې په معنوي اعتبار روحانيت يعنې د قلبي واردات،تصوف،انفراديت،احساس،په ژبني حواله وضاحت،سادګي،سلاست او آه د

اصطلاحاتو نه ظاهرېږي.د دوي نه پس بیا نورو شاعرانو هم دغه علامتونه په کار راوښتي دي.لکه:

د دۀ زړۀ د حق بلبل دے
د بلبل شغل له باغه
دا بلبل طالب د گل دے
دې خبر له دې سوراغه
ارزاني وښا ده پټه
له دوبینه توره زاغه
یو چراغ دے چې بلېږي
پوشیده دے له احواله[18] (ارزاني خوېشکي)

چې د عشق ډیوه ئې بله
نن پتنگ غوندې ترې ځار شه
د حیات پیاله ئې درکړه
په ساقي باندې نثار شه[19] (مرزا خان انصاري)

د شبنم غوټې په گل دي اوېزاندې
کۀ ئې در په بنا گوشو کښې برېښنا کا[20] (اشرف هجري)

اے د سحر چرگه عشق حاصل کړه له پتنگه
وسوزي په اور کښې هېڅ اواز نۀکا له ننگه[21] (عبدالقادر خان خټک)

رحمان حُسن د یار وینم په پرده کښې
نۀ پټېږي نمر د شمعې په فانوس[22] (رحمان بابا)

چې هر گل وته نظر کړې
د باغوان نندارہ گوره[23] خوشحال خان خټک)

د وخت تېرېدو سره سم تهذیبي ارتقا هم کېده او په ژبه کښې وسعت هم پیدا کېدو.ځکه نو شاعري په جدید انداز د تخلیق کولو دپاره د صنعت گرۍ نه علاوه بله لار نۀ وه.د نوي رنگ او آهنگ دپاره د صنعتونو اړتیا وه په دے حواله ډاکټر ابواللیث صدیقي لیکي:

"شاعری اور صنعت گری، جذبات نگاری اور الفاظ کی شعبدہ کاری کو ملا کر لکھنوی شعراء نے ایک نیا رنگ پیدا کر دیا۔

*ہر رنگ کی نمایاں صفت صنعت ہی کو ٹھہرایا گیا۔ رعایتِ لفظی یا ضلع جگت جواوّل الذکر کی ایک بد نما شکل تھی، اس کے باعث ظہور میں آئی۔ تشبیہ اور استعارے میں سادہ اور فطری تشبیہات کے بجائے دور از کار تشبیہات شاعری میں در آئیں اور اردو غزل میں جو علامتیں استعمال ہو رہی تھیں ان کا سطحی استعمال ہونے لگا۔"*[24]

ساده روئے مخ ته هوس له سادګۍ کړي
و چمن ته پرېښوے نۀ شي د چمن لاس[25] (حمید بابا)

په ابتدا کښې د شاعرۍ علامتي نظام د حسن و عشق د مضامینو ترجماني کوله.د عشق او محبت د جذبو د بالواسطه اظهار دپاره د ګل او د بلبل علامتونه ډېر موزون وو نو ځکه د دغې دپاره هم دا علامتونه په کار راویستلې کېدۀ خو ورو ورو د دې تلازماتو په معنو کښې وسعت پیدا کېدو او د حسن ، عشق او درد و غم نه پرته دې ټکیو نورې وسیع معنې هم راوړې.لکه د باغ سره تړلي نور اصطلاحات لکه سروه، ګل، بلبل، هوا،خوشبو،ازغي ،دام،مالي،او داسې نورو ټکو د مختلفو علامتونو صورت اختیار کړو.دغسې د محفل په حواله شمع،پتنګ،شراب،پیاله،جام،ساقي،رباب،چنګ،ساز وغېره کښې هم علامتي معنې پیدا کړې شوې چې د ژوند د مختلفو حقیقتونو او مفاهیمو دپاره کارولے شي.پښتو شاعرۍ کۀ دفارسۍ علامتونه خپل کړي نو د هغې وجه دا ده چې زمونږ تهذیبي روایات او فکري سرچینې یوې دي.

انتظار حسېن لیکي:

*"ہماری علامتیں کچھ براہِ راست ہمارے مذہبی تجربے سے ماخوذ ہیں اور ان تہذیبی روایتوں سے جن کی گہری تہ میں یہ مذہبی تجربہ پانی کی رَو کی طرح جاری ہے۔"*[26]

د عجمي تهذیب سره زمونږ رشته څۀ نوې نۀ ده دلته هم شاعرانو د فارسۍ په تقلید کښې په غزل، مثنوي،قصیده او داسې نورو هئیتي قالبونو کښې هم هغه مضامین ځاے کړل کوم چې په فارسۍ کښې وو.په پښتو زړه یا کلاسیکي شاعرۍ کښې په خاص توګه علامتونه په درے مثالونو وړاندې کړے شوې دي.وړومبے باغ یا ګلستان او د هغې سره تړلي لوازمات.دویم شراب او ساقي او دهغې سره تړلي لوازمات.دریم په معاشرتي حوالو اوپه خصوصي توګه د ډول سینګار دپاره چې کوم علامت زیات کارولے شوې دے هغه آئینه ده.

په هند د انګرېز د قبضې نه پس د ژوند په هر ډګر کښې بدلون راغے.ادب هم ددغه

اثر نه بچ پاتې نۀ شو او بیا دلته د انجمن اصلاح افاغنه اوخدائي خدمت ګار تحريک دسيوري لاندې په پښتو ادب کښې د مقصديت او سادګۍ رنګونو شوخي بيامونده.ددې تحريک سره تړلي شاعرانو او اديبانو د يو خاص مقصد دپاره خپل فن کاروو. خپلو تخليقاتو له ئې هغه رنګ ورکړو چې عام وګړي هم د هغوي په پيغام پوهه شو او هم ئې ترې اثر واخستو.د دغه دور ليکوالو به مختلف علامتونه په کار راويستل ځکه چې په هغه دورکښې نېغ په نېغه خبره کول د پېريانو کور ته کاڼي ويشتل وو.نمر، سپوږمۍ، شپه،ورځ،کب،چراغ،پنجره،طوطي،سپرلے،خزان،ګلستان،شاهين او داسې نور علامتونه به ئې پکار راويستل. هم ددغه علامتونو زمونږ سره ژور تعلق دے.او د خدائي خدمت ګار تحريک سره تړلي هر شاعر هم دغه علامتونه د خپلې شاعرۍ اجزا ګرځولي دي.ددې علامتونو نه علاوه زمونږ په شعري روايت کښې د تاريخ،معاشرت او تهذيب په حواله هم بلها علامتونه په لاس راځي.په تاريخي لحاظ کۀ خبره کوو نو زمونږ شاعري ترې ډکه ده او په خصوصي توګه شاعرانو د قرآن د واقعاتو نه ډېره استفاده کړي ده.لکه د موسي عليه سلام يا عيسي عليه سلام نه علاوه د يوسف او زليخې واقعه وغېره.ددې سره سم د منصور او بيا په تېره تېره د کربلا واقعه هم د يو علامت په توګه په شاعرۍ کښې ډېر ځايه استعمال شوې ده.په معاشرتي علامتونو کښې کور،کلے،ديوال،چراغ او آئينه وغېره په داسې انداز علامتي استعمال شوې دي چې نوې نوې معنې ترې جوتېږي.د معنو د درنګونو د انکشاف سره سم شاعر چې د خپلې جذبې د اظهار دپاره د ابلاغ کومه لار ټاکي نو د هغې دپاره هغه داسې علامتونه راوړي چې د شاعر او لوستونکي يا اورېدوکي تر مېنځه تړون دوام وومومي.بل دا چې دغه علامتونه د لوستونکي د ذهن دروازې پرانيزي او هغه ته نوي رڼا بخښي.د بلراج کومل تر مخه:

*"کامیاب شاعروں کے ہاں علامتیں نظم میں آئینوں کی طرح جڑی ہوتی ہیں۔ وہ آئینے جن میں مضمون کا عکس صاف اور شفاف دکھائی دیتا ہے۔ ناکام شاعروں کے ہاں علامتیں (انھیں وہ خالص ذاتی علامتوں کا نام دیتے ہیں) اس قلعے کی صورت اختیار کر لیتی ہیں جن کے اندر قید کیے ہوئے لوگ باہر نہیں آسکتے اور باہر کے لوگ اندر نہیں جا سکتے۔ یہ اور بات ہے کہ قلعے کی دیواریں بظاہر حسین دکھائی دیتی ہیں۔"*[27]

د پښتو غزل کۀ نوے دے کۀ زوړ رمزيت،ايمائت او غنايت پکښې په کراتونو موجود وي.د دغې دپاره شاعران اشارې،کنايې،تشبيهـ ،استعارې او علامت نه کار

اخلي.هسې خو د اعلي پايې د ادبي اظهار اډانه په علامت وي.خو په غزل کښې استعمال شوي تقريبا ټول لفظونه د علامت په رنګ مزين وي.ډاکټر حامد کاشميري علامت د شعر د بنائست په ځاے خصوصيت ګڼي.هغه ليکي:

"يہ مسلم ہے کہ شعر کی علامات کاری ہی تجربے کی پیچیدگی اور کثیر الجہتی میں اضافہ کر سکتی ہے، بلکہ یہ کہنا زیادہ درست ہے کہ شعری تجربہ شاعر کی داخلی سطح پر متنوع اور متضاد عناصر کی تطبیق کے نتیجے میں علامیت صورت اختیار کرتا ہے۔ گویا علامتیت شعر کی خاصیت ہے نہ کہ اس کی آرائش یا وضع کردہ اسلوب۔"[28]

"لہٰذا غزل اور علامت نگاری کا ساتھ اتنا ہی پرانا ہے جتنا کہ خود غزل۔ ہر عہد کی غزل کا دامن علامتوں سے مالا مال ہے۔ گلستان کے تلازمات میں لالہ و گل، سرو و شمشاد، سبزہ، بہار، خزاں، سبزہ بیگانہ چمن وغیرہ میخانے کے تلازمات میں پیرِ مغاں، ساقی، بادہ، ساغر، واعظ، محتسب، زاہد وغیر اور اسی طرح دریا، صحرا، کارواں وغیرہ اور ان کے تلازمات کا استعمال غزل میں علامتوں کے طور پر ہوتا رہا ہے۔ علامت کے بارے میں عمومی تصور یہ رہا ہے کہ یہ کوشش سے ایجاد نہیں کی جاتی بلکہ تمدنی ورثے سے وجود میں آتی ہے۔ کسی لفظ کے ساتھ رفتہ رفتہ کچھ قدریں اور تصورات وابستہ ہو جاتے ہیں۔ یہ تصورات علاقے، تہذیب، عقائد، معاشرت، تاریخ وغیرہ سے تعلق رکھتے ہیں۔ اور یہی تصورات لفظ کو علامتی اقدار دیتے ہیں جو اسے موقع و محل کے مطابق معنی کی نئی جہتوں سے روشناس کرتے ہیں"[29]

د علامت خوبي د هغې معنوي وسعت دے.د وخت سره سره د علامت په معنو کښې هم بدلون راځي.هم دغه وجه ده چې په هر دور کښې شاعرانو د هر علامت نه نوې معنې اخذ کړي.کۀ ترقي پسند دي نو هغوي د نوي علامتونو د تخليق رجحان نه لري البته د جديديت تحريک چې د کومو مغربي تحريکونو نه متاثره وو علامت نګاري هلته ځۀ نه ځۀ وجود لري.ځکه د جديديت سره علاقه لرونکي پښتانۀ ليکوال هم علامت پله ځۀ نه ځۀ رجحان لري.ددې اثر تقريبا په هر صنف شوے.جديد نظم او افسانه کښې د علامت رجحان شته او هم دغه اثر د نظم نه غزل قبول کړے.داسې ډېر نوي حسي تصورات دي چې د نظم په جولۍ کښې لوېدلي او غزل ئې د خپلولو کوشش کړے خو د غزل په غېږ کښې دغه څيزونو خپل مادي ،خصوصي او اصل حېثيت نه لاس وينځلي دي او د غزل په ايمائيت او رمزيت کښې ئې ځان ځاے کړے دے. په غزل کښې د جديديت پيدا کړے علامتي رجحان د غزل د روايتي علامت نګارۍ نه بيخي بدل دے.په دې حواله دا څو نکات مخې ته راځي:

۱.د جديديت د تحريک نه وړاندې په غزل کښې علامت نګاري د هغه زوړ ادبي روايت

برخه وه کوم چې په داستان او نورو زړو ادبي اصنافو کښې وه.خو ددې تحريک سره پيدا شوي علامتونه د يورپ او په خصوصي توګه د فرانس د علامت نګارۍ او ابهام پسنده شاعرانو سره لګي.

۲.زاړۀ او پخواني علامتونه د فارسۍ د اثر نتيجه وه نو د هغې دپاره د فارسۍ پوهه لازمي وه.خو جديده علامت نګاري د مغرب د اثر د وجې ده ځکه ورله د تشکيل، پوهې او ادراک دپاره د مغرب تنقيدي اصول ضروري وي.

۳.ددې رجحان تر مخه شاعرانو د روايتي علامتونو د معنو نه نۀ يواځې بغاوت وکړو بلکې په خپله ئې زاړۀ علامتونه ختم کړل او نوي علامتونه ئې وضع کول شروع کړل.

۴.ددې سره دا وشو چې د فارسۍ د روايت د اثر تر مخه د ايراني تهذيبي مظاهرو په ځاے مقامي ماحول نه علامتونه اخستل شروع شو..

۵.د اجتماعي علامتونو سره سره د مغرب په تقليد کښې د ذات او شخصي علامتونو رواج شروع شو.په غزل کښې د دې نوي علامتونو په حواله ډاکټر وزير آغا ليکي:

"موجودہ دور میں جب غزل گو شاعر نے جملہ حسیات کے برانگیختہ ہونے کے باعث اپنی دھرتی کو بغور دیکھا تو بہت سی قریبی اشیا اور مظاہر نئے علائم میں ڈھل کر غزل کا جزوِبدن بننے لگے۔ مثلاً جدید تر غزل میں پیڑ، جنگل، پتھر، برف، گھر، شہر، پتے، شاخیں، دھوپ، سورج دھواں، زمین، آندھی، سانپ، کھڑکی، دیوار، منڈیر، گلی، کبوتر، ڈھول، رات، چاندنی اور درجنوں دوسرے الفاظ اپنے تازہ علامتی رنگوں میں ابھر آئے ان لفظوں کی اہمیت اس بات میں ہے کہ یہ اپنے ماحول کے عکاس ہیں اور زمین کی باس اور رنگ کو قاری تک پہنچاتے ہیں۔"[30]

اګرچې د خپل چاپېر چل د څيزونو او مظاهرو نه علامت اخذ کول د زړو نه بغاوت او د نوي تشکيل هڅې دي خو ددې بله يوه وجه معروضي قربت دے.د خپل ذهني کيفيت او جذباتو د اظهار دپاره شاعرانو د زړو علامتونو په نسبت د کوم چې د عملي ژوند سره څۀ تړون پاتې نۀ وو په ځاے د خپل ماحول نه علامتونه اخستل بهتر وګڼل.په دې حواله خليل الرحمان اعظمي ليکي:

"چونکہ جدید تر غزل جدید تر ذہنی کیفیات اور طرزِ احساس کی پیداوار ہے،اس لیے اس غزل میں ہمیں ایک نئی فضا اور ایک نیا ذائقہ ملتا ہے۔اس غزل میں پرانی علامتوں کی تکرار اور گھسے پٹے تلازموں کے بجائے تازہ علامتیں اور الفاظ کے نئے تلازمے ملتے ہیں۔ یہ الفاظ اور علامتیں ہمیں ہر جگہ زندہ اور محسوس شکل میں دکھائی دیتی ہیں۔ دن، رات، اندھیرا، اجالا، سورج، چاند،

شام، سناٹا، تنہائی، چراغ پتّا، ٹہنی، فصیل، حصار، سمندر، بادبان، جزیرہ ابر، پتھر، خاک، ریت، راکھ اور اس طرح کے بہت سے الفاظ غزل میں ایک نئی معنویت کے ساتھ استعمال کیے گئے ہیں۔ اس طرح کہ غزل کی لفظیات اور اس کی مخصوص فضا بالکل بدلی ہوئی معلوم ہوتی ہے۔"[31]

د علامت نگارۍ د رجحان نمائنده شاعرانو تخصیص کول ګران دي ځکه چې نن سبا ډېر داسې شاعران دي چې د هغوي په شاعرۍ کښې د علامت نګارۍ خوارۀ په درنګونو موجود دي.خو دلته د یو څو شاعرانو د شعر د دغه رنګ مثالونه وړاندې کووم.

ستا که حُسن فېرنګے دے محبت زما پښتون
زۀ انکار کړم له غېرته ستا انکار خوله پندار دے[32]

ښکلیه قافله دې د سینګار چرته لوټ نه شو
تل چې درسره ده بدرګه د آئینې[33]

په خوي اور اورکې شه په ځلا خوبې له تاوه
په وخت د قربانۍ له ځانه جوړه پروانه کړه[34] (حمزه بابا)

چې ګل غواړې په ازغو باندې ښنے ښنے شه
هر اوچت سر دے په دار کۀ په دار نۀ دے

د شبنم په ژړا خاندي ګل او رڅي
د ازاره چا موندلے بازار نۀ دے[35] (فضل حق شیدا)

ګل مې ګل کۀ دے خو تۀ یې بې له تا نازکه یاره
هر یو ګل راته ازغے شي راته سترګو کښې غړېږي[36] (اجمل خټک)

یو موهومه شان مستي ده په فضا کښې
لکه خیال وي د مېخوار په سېل وتلے[37] (یونس خلیل)

لکه ستوري چې خپل سیوري د اوبو په آئینه کښې
په اوتر اوتر نظر کښې ګوري ګوري په خندا شي

یا سپوږمۍ سپینه ځلېږي له اودي اودي اسمانه
جهان واړه منور شي بې قراره دا فضا شي[38] (همېش خلیل)

اوس دې د زلفو د خم خام دے پکار
زمونږ په هر يو قدم دام دے پکار
د زړګي حرم مې خدايه ترې محفوظ کړې
چې ئې سترګې ابرهه کاکل ئې فيل شو[39] (قلندر مومند)

ما وے څۀ له راجمع دي دا سپين سپېځلي خلک
چااووے چې نيلام دے د سرونو په دے ښار کښې[40]
ګل د ګل چين سهي ګلشن د ګلبدنو سهي
هغه ازغے مې هم د زړۀ په سر کښې پاتې نۀ شو[41] (رحمت شاه سائل)

حالات مې د وجود د هر اندام نه وينه څښي
ژورې مې لګيا دي په ځوانۍ خورې ورې[42]
چينو ته لارې بندې ګودرونه شو ټول شاړ
ټوکېږي تلمبرې د خوړ په ژۍ خورې ورې
ستا يادونه مې په زړۀ داسې خوارۀ دي
لکه ونې نه چې کور غبرګه راتاؤ کړي[43]

د ښو په غاښور ئې ټول خوبونه رانه ټول کړه
خدايه بيا مخې له راغله لېونۍ په ماښامې کښې[44] (اباسين يوسفزے)

په دغه شعرونو چې غور وکړو نو دا خبره ترې جوتېږي چې د نن د جديد غزل نمائنده شاعران په کوم انداز د يو عام مستعمل ټکي نه علامت جوړوي او بيا ورته څومره په هنر د معنو نوې جامې کوي چې هم د فن شوخي لري او هم د جذبې مستي.ددغه څو منتخبو شاعرانو شعري استارې نه دا ثابتېږي چې هر په خپل ځاے د خپل فکر او خيال وجود مجسم کولو له د کوم اړخه معنې راوړي چې لوستونکي ترې حظ هم اخلي او رڼاهم. په مجموعي توګه جديد غزل د علامت په لار خپله معنوي شمله اوچته ساتلې ده.د خپل احساس کونجيلک اړخونه،د جذبې خلوص او صداقت چې په کوم انداز ددې علامتونو په لار شوې نو ثاني نۀ لري.په شاعرانو کښې د علامتونو د استعمال او عمومي جوړښت نه پرته دغه شاعران ددې دپاره څۀ دائرې هم لري.دغه دائرې د مختلفو داستانونو اساطيرې،

تهذيبي او مذهبي حوالو نه راڅرګنږي.داستانونه د ټولې دنيا په ادب کښې وجود لري.د عقليت او منطقيت د فلسفو په ټس کښې دغه داستانونه د تنقيدي رويې ښکار شوې دي.خرافات او توهمات ګڼلے شوې دي خو جديد نفسياتو داستان د انسان د لاشعور پيداوار ګڼلو سره ددې ارزښت تسليم کړو.جديد شاعران ئې معروضي تلازمه ګڼي کومه چې ابديت لري.دغسې د مقامي اولسي قيصو کرداونه او مختلف مذهبي شخصيات او د هغوي سره تړلي واقعات هم د علامت په توګه استعمال کړې شو.جديد پښتو غزل د داستانوي علامتونو سره کلک تړون پيدا کړې او د دغه علامتونو په حواله شخصي او اجتماعي لاشعور،معاشرتي صورت حال،سياسي اړے ګړے او د ژوند نورې کشالې او واردات په متنوع انداز وړاندې کړل.په جديد غزل کښې مونږ د علامتي دائرو تعين داسې کولے شو:

عربي او عجمي تهذيبي او داستانوي علامتونه.

اسلامي مذهبي او تهذيبي علامتونه.

هندي تهذيبي او اساطيري علامتونه

مقامي اولسي قيصه ايز علامتونه

ددې په وجه پښتو غزل غني ښکاري . د پښتو غزل کښې داسې لګي چې په اول ځل شاعرانو خپل جذبات او احساسات د خپل چاپېرچل د مظاهرو او علامتونو په ژبه کښې د وړاندې کولو هڅې کړې دي.نو ځکه ددې رجحان شمله مونږ د يو تن يا د شاعرانو د يوې محدودې فکري حلقې په سر نۀ ږدو بلکې دا د يو وسيع تحريک بخښنه ګڼو.

## References

[1]The New Encyclopedia of Britannica: London. 15th Edition, Vol 17, 1973-74, P.900.
[2]The Encyclopedia of Americana, Grolier Incorporated, Danbury, Vol.26, 1972, P. 166
[3]Webster's Encyclopedic Unabridged Dictionary of P.41
[4]William York Tindall: The Literary Symbol: Indiana
[5]abdul Mateen Arif,imkanaat,Lahore technical publishers urdu bazar,1975,page 135
[6]Rohi Serandoway,Muhammad Sadeeq,,adabi seranay,Danish khparandoya tolana, 2007,p 422,423
[7]ibni farid,Dr.,mein hum awr adab,educational book house,Ali garh,1977,P 21,22,23
[8],Jelani Kamran,shairi mein alamaton ka masla,maqala,mashmola,adbi dunya, Lahore, shumara 11,1968,P233
[9],ibni fareed,Dr.mein hum awr adab,,p24
[10]Jilani Kamran,shairi mein alamaton ka masla,maqala,P234
[11]hum dagha P 238
[12]۸Sajjad,baqir Rizwe,Dr.Tehzeb o Takhliq,Lahore,maktaba jaded,1966,P58
[13]Shah,amar tasre,shairi mein alamaton ka masla,maqala,adabi dunya,shumara 11,1968,231,232
[14]wazir Agha,Dr,alamat kia hai?maqala,mashmolaalamat,Lahore,January 1996,P14
[15]مMuhammad Ajmal,Dr.maqalat e Ajmal,murataba:sheema majeed,edara saqafa e Islamia,Lahore,1987,P144
[16]Saleem Akhtar,Dr. takhliq,takhliqi shakhyat awr tanqeed,sang emeel publishers Lahore,1989,P 118
[17]shameem Ahmad,talism hosharba ki alamaty ahmiat,maqala,mashmoola,naya dawar,Karachi,shumara 23,P321
[18]Arzani Khuaishki,kulyat,peshawar,2005,P 204,205
[19]Dewan mirza khan Ansari,kabal pukhto tolana,1353,P463,464
[20]Dewan ashraf khan hijri,muratab:hamish khalil,edition 1st,Peshawar, shaheen barqe press,may 1958,P7
[21]da abdul qader khan khatak dewan,murataba:prof,jihan zeb nyaz, peshawar, pukhto academy,march 2002,P329
[22]Kulyat rahman baba,murataba:mohmnd dost Muhammad khan kamil,qalandar muhmand,mawjuda chap 2018,P105

[23]Mohamnd Dost Muhammad khan kamil,khushal khan khatak,swanih hayat,2nd Edition,Peshawar,spogmaye plaza,jamrud road,2006,P313
[24]Abu lais,sadeeqi,Dr,lakhawo ka dabestan shairi,ghazanfar academy karachi, 1987,P74
[25]Dewan abdulhameed,muratab:qasim banawe,banu,da pukhto adabi markaz,P37
[26]Intezar,hussain,alamt ka zawal,sang mel,publishers,Lahore,1983,P54
[27]Bilraj komal,shairi mein alamon ka msla, maqala,adabi dunya, Lahore, shumara 11,1968,P223
[28]hameed Kashmiri,Dr,ghazal mein jadidiat k shuara urdu ghazal,murataba;kamil quraishi,Dr.urdu academy dehli,1978,P543
[29]shareb,roddawe,Dr.jaded ghazal mein alamat nigare mashmola urdu ghazal:murataba:kamil quraishi,Dr.kamil quraishi,Dr.P923
[30]wazir agha Dr.urdu shairi ka mizaj,maktaba alia,lahore1999,292
[31]khalil ur Rahman azmi,ded tar ghazal,matboaa fanun Lahore,jaded ghazal number,1996,P27
[32]shinwari,ameer hmza,da hamza kulyat II,Peshawar, pukhto academy, uop, 1993,P165
[33]hum dagh P485
[34]Shinwari, ameer hamza,da hamza shiwari dewan,daru tarjama composing, 2010,P286
[35]Khalil ,haneef, Ainay,Danish khparndoya Peshawar,P127
[36]Hum dagha ,P 250
[37]hum dagha 278
[38]hum dagha P 297
[39]hum dagha, P 344
[40]Sail,Rahmat Shah,da khaistunu da sparli baduna,p30
[41]hum dagha p 19
[42]Yousafzai,,Abaseen,ghurzanguna,shoaib sons publishers and book sellers,gt road Mingora swat,june 2011,p168
[43]Hum dagha p 136
[44]hum dagha,p 48